# د یادونو مقبرو کښې

٤

سعدالله جان برق

پکار خو دا وه چې ما د خپل ژوند قصه په ځلورو حصو کښې تقسیم کړې وې او هره حصه ځان له بیل جِلد وې، مثلاً په عام ژوند کښې ما څهٔ لیدلي څهٔ کتلي او څهٔ څهٔ زغملي دي. د صحافت دنیا د بهر نه څنګه ده او دننه څنګه ده، د شوبز یعنې ریډیو ټي وي او فلم دنیا کښې څهٔ څهٔ کېږي، سیاست د کومې ناروا لوبې نوم دے او په عام ژوند کښې څومره د لوئے نوم وارهٔ خلق او د څومره وړوکي نوم لوئے خلق پراتهٔ دي.

خو بیا مې ووې چې دا ګډه وډه مېوه به ښه وي بلکې مصالحه داره ګړه به ورته ووایو چې کله کوپره غاښ لاندې راشي کله د غوز یا موم پلي چکې او کله کله به د تور مرچ دانه د هغه تول خوږوالي مزه دوه چنده کړي بله دا چې د ترتیب زماني او مکاني هم پکښې څهٔ کار نهٔ وي چې کومه خبره مې د کوم ځائے نه راونیوه.

مثلاً د عبدالحسن سابقه قریشي قصه د زمان او مکان په لحاظ ډېره وروستو هغه وخت راپېښه شوې وه چې کله زهٔ په بنو کښې وم او عبدالحسن سابقه قریشي یو خو په ابوالحسن خفه کېدو او چې چا به ورته ووې نو وئیل به ئې عبدل حسن.

او دا د سابقه قریشي قصه داسې وه چې وئیل ئې زهٔ اول قریشي وم خو چې کله ماته دا پته ولګېده چې ابوجهل هم قریشي ؤ نو زهٔ سابقه قریشي شوم خو بیا وروستو صرف سابقه صېب پاتې شو. سابقه صېب د عبدالرحیم مجذوب صېب دریافت بلکې ایجاد ؤ ځکه چې د هغهٔ خبرو ته به نهٔ صرف مجذوب صېب غوږ اېښودو بلکې ځائے په ځائے به ئې ایکسلېټر هم ورکولو.

عبدالرحیم مجذوب د پښتو ژبې یو ډېر لوئے او بې مثاله نظم ګو شاعر دے بلکې د افسانو جواب ئې هم نشته خو نظم زما خیال نهٔ دے چې بل څوک د مجذوب صېب هومره ښائسته او بې مثاله ولیکي.

سابقه صېب خدائے خبر چې مجذوب صېب د کومې کندې یا کنډر نه راکنستلے ؤ خو ډېره لړه موده کښې د بنو د شاعرانو په اعصابو لکه د خپسې سور شو او دا خو کېدے نهٔ شوه چې چرته دې مشاعره وي او سابقه صېب دې پکښې خپل کلام وانهٔ وروي چې په حقیقي معنو کښې بې لګامه بلکې بې اودسه کلام به ؤ.

سابقه صېب په انګرېزي فوځ کښې هم نوکري کړې وه او د هم هغه وخت یادګار یو کوټ به ئې اوړے ژمے په غاړه ؤ چې څهٔ بلا شے تمغې به هم پرې لګېدلي وې د لوئے لام په زمانه کښې ئې د عرب، مصر او افریقي ملکونه هم کتلي وو او بې شماره ناروا او بې اودسه قصې ورسره وې او د خپلې

ښځې او بچو د سوځولو په جرم کښې ئې په جېل او پاګل خانه کښې هم څۀ موده قیام کړے ؤ.

د دې بال بچ د سوځولو قصه داسې وه چې یوه ورځ ئې خپل کور ته اور واچولو او پکښې ئې غالباً چې درې اولاده او یوه ښځه ایره کړل او وئیل به ئې چې ما قرباني ورکړه.

بیا به ئې ځائے په ځائے ترکاڼانو سره د کرسو ښلو کار کوو خو په خپله خاص طریقه کرسۍ کښې به ئې یو مزے تېر کړے ؤ یا نۀ چې شعر به پرې نازل شو نو هر څۀ به ئې پرېښودل او د اورېدونکي په لټون کښې به سر شو. خو بیا چې ترې تمامو اورېدونکو انکار وکړو نو صرف یو مجذوب صېب ئې واحد اوریدونکے او داد ورکونکے پاتې شو، هر چرته به چې پرې د شعر نزول وشو نو کۀ چرې وخت به ؤ خو مجذوب پسې به کچرو ته لاړو کوم ځائے چې هغوي وکالت کولو او کۀ څۀ د چوتې قصه به وه کور ته به ورتلو چې خپل کلام به ئې ورته واؤرولو او د مجذوب صېب نه به ئې داد وصول کړو نو بیا به خپل کار له روان شو خو اکثر به پرې لاره کښې بل شعر نازل شو نو سمدستي به واپس خپل ایکي یو سامع له راغلو داسې به ئې یوه کرسۍ چرته په میاشت نیمه کښې وښله یا نۀ. شعرونه ئې هم د کمال وو اکثر خو به ئې د مشهورو شاعرانو په شعرونو یا سندرو کښې څۀ ټکی نیم ورزیات کړو او چې چا به ورته وئیل چې دا شعر د فلاني دے نو وئیل به ئې ځه تۀ ماته په هغې کښې دا ټکے وښایه. لکه مثلاً د اقبال شعر ؤ:

خودی کو کر بلند اتنا کہ ہر تقدیر سے پہلے
خدا بندے سے خود پوچھے بتا تیری رضا کیا ہے

دا شعر به ئې څۀ داسې کړو،

اے جاهل خودی کو....

وئیل به ئې ماته د اقبال شعر کښې "اے جاهل" وښایئ او د رحمان بابا پوره غزل کښې ئې دروېشانو سره "صاحبانو" ولګولو.

د شعرونو اورولو انداز ئې هم زبردست ؤ یو خو ئې سترګې او نور کړۀ وړۀ هم خطرناک وو تکه سره ورانه ویجاړه ږیره او د خپلو ځایونو نه یو قدم وړاندې راوتې تکې سرې سترګې. شروع به ئې د مائک نه وکړه خو بیا به ئې مائک په ځائے پرېښودولو او په سامعینو کښې به کله یو له او کله بل له ورتلو ځپق به ئې په خُلۀ کښې ورمنډلو او بار بار به ئې هغه شعر تکرارولو او هر ځل به ئې پکښې څۀ نوے کمے زیاتے کولو.

یوه ورځ د مشاعرې صدارت د بنو یو ډپټي کمشنر کپټن (ر) عبدالرحمان کولو، سابقه صېب کلام شروع کړو اول خو ئې په قسماقسم اوازونو، لهجو او ترنمونو کښې یو لس ځل یوه مشهوره فلمي سندره خپله کړه:

مرا مزاج لڑکپن سے عاشقانہ تھا

عاشقانه سره د معشوقانه په ذریعه ئې سندره خپل ملکیت کړې وه، بیا ناڅاپه په صدر یعنې ډي سي ورخطا شو ورټېټ شو خُلې سره ئې ورته ځپق ونیولو او وئیل ئې:

تیرا مزاج تیرا مزاج تیرا مزاج

لړکپن سے معشوقانه عاشقانه تها- دلته ئې معشوقانه د "عاشقانه" نه وړاندې کړو، ډې سې غریب له چل نۀ ورتلو چې څۀ وکړم د سټېج سکرټرې ډیوټې زما وه اخر مې د لاسه را ونیوو او مائک له مې راوستو خو بیا ټول رانه ګیله من وو، وئیل به ئې مړه زۀ دې په بانګ کښې کړې کړم یعنې بانګ مې وئیلو او تا راته کړې ووې.

چرته د بدو د شامته مردان کښې مشاعره وه اثاري ګل اثار دوي سره سابقه صېب هم لاړو هلته ئې چرته "همایون هما" په زړۀ ښۀ لګېدلے ؤ بس بیا څۀ وو په هر شعر کښې به ئې د "هما" نوم ورننوېستلو.

د هما چرګه شاعري کوی

او عبدالحسن به مې پرې تنقې (تنقید) کوی.

قصه به ئې هم د کمال کوله وئیل چې زۀ په لام کښې وم نو یوه ورځ مې دا سعود مسعود څۀ دې چې ځان ته د عربو باچیان وائې هن هن چې دا عبدالحسن (سینه به ئې وډبوله) نۀ وے تاسو دا نۀ شې چې د جرمني نه په تخت ناست وے، ما باچایان کړې دي ما. جرمنے مې چې داسې په څپېړه وواهۀ کنه نو یوه سترګه ئې جولۍ کښې راپربوته.

سابقه صېب سره د جنګ عظیم ډېر شے قصې وې او هره قصه به ئې داسې په کمال بیانوله چې سړے به ورته حق حېران پاتې شو، باقاعده مکالمې منظر نګاري او کردار نګاري به ئې پکښې کوله.

یوه ورځ ئې وئیل ما هغه ځائے هم لیدلے دے چرته چې فرعون د غوئي زوئے په سیند کښې ډوب شوے ؤ، ما چې د دریاب غاړې ته وکتل نو فرعون مې صفا ولیدو چې د سیند په غاړه ډډ بډ پروت ؤ خېټه ئې پړسېدلې وه او شنۀ نسوار ئې په پوزه رابهیدلي وو او بمبرې نه غټ غټ شنۀ مچان ئې په دا مرداره ځُلۀ باندې بڼېدل یو غوږ ئې د شګې ډک ؤ او بل غوږ ترې نه نیم څۀ بلا په اوبو کښې خوړلے ؤ.

د مجذوب صېب دا قاعده وه چې د کچرو نه به راغلو نو د آرام نه پس مازیګر به د فوځي چاؤنۍ کمپني باغ ته وتو. سابقه صېب به ورله په صحیح وخت ځان رارسولے ؤ، دواړه به د سړک په غاړه غاړه تلل. سابقه صېب به رنګارنګ قصې او اپلتې ویشتې او مجذوب صېب به ورته داسې غوږ ایښے ؤ لکه چې ټکے په ټکے رښتیا وائې، غالباً چې په دې طریقه به مجذوب صېب خپل دماغ دمه کول، چې ټوله ورځ به وکالت کښې ښۀ سترې شوي وو.

یوه ورځ ئې مجذوب صېب سره په څۀ ورانه شوه مرور شو، زۀ ورغلم ورته مې وئیل سابقه صېب د مجذوب صېب نه ولې مرور ئې؟ وئیل ئې درې ئې کړه (لرې ئې کړه) هغۀ خو عیسائي دے، ما وې نۀ یره سم دم مسلمان دے، عیسائي څنګه دے، وئیل په پزه کښې ئې وېښتان دي (په پوزه کښې ئې وېښتۀ دي) هلکه دا د عیسائي توب کومه نخښه ده؟ د یو انګرېز نوم ئې واخستو وئیل د هغۀ پزه کښې هم وېښتان وو او عیسائي پادري وو.

کلام خو ئې اکثر د لیک او لوست د دائرې نه بهر دے خو یو نیم شعر به پکښې لړ په اوداسۀ کښې هم راغلو، لکه دا یو نظم غوندې ؤ او هره مشاعره کښې به ئې په ترنم اورولو خو هر ځل به پکښې نوي نوي مواد وو، صرف د سر بند ئې داسې ؤ.

چهوټی بړی سوئیان تے تارے مورے ګاړنا او ګاړنا سره په وزن کښې به بیا د دې قبیلې ټول بې اودسه الفاظ او ترکیبونه وو، یو بل مشهور نظم ئې ؤ:

چرګـــې پتيـــارو راپـــاڅيږه خـــارو
ورو ورو ورو ورو

د دې نظم په دوران کښې به مختلفو سامعينو له ورتلو او ورته به ئې خُلهٔ نـزدې کولـه او ورو ورو ورو بـه ئې ترنم کښې وئيل خو د ټولو نه خوښ ئې خپل يو نعت ؤ.

خـــدا نخواســـته- خـــدا نخواســـته
اګـر چـه لـے جائے خدا مجھے مـدينے مـين
خـــــــــدا نخواســــــــــته

د هغـهٔ پـه دمـاغ کښـې د خـدا نخواسـته معنٰـې د انشاءالله وه.

ډېر د مزو سړے ؤ زمونږ مشاعره به پرې ډېره ګرمه وه خو کهٔ نمبر به ورله چا زر ورنهٔ کړو نو بيا به چې ودرېدو نو هغه نظم به ئې واورولـو پـه کوم کښې چې د دې علاقې تقريباً د هرې ژبې کنځل شامل وو.

**نور بيا**